**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د فطر د صدقې(سرسايې) احکام**

-------------------------------------------------------------------------------------------

**د۱۴۴۴هـ ق مطابق ۱۴۰۲ هـ ش کال د رمضان روژې د فطر صدقه**

**لاندې جدول، د کابل ښار د فطر د صدقې د څلور گونو خوراکي توکو ، او يا د هغو اندازې او بيې لپاره دی**

| شمېره | جنس | وزن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | ۱۹۰۰ گرام | ۷۰ - افغانۍ |
| ۲ | د غنمو اوړه | ۱۹۰۰ گرام | ۷٤ - افغانۍ |
| ۳ | وربشي | ۳۸۰۰ گرام | ۱٦۲ - افغانۍ |
| ۴ | د وربشو اوړه | ۳۸۰۰ گرام | ۱۷۲ - افغانۍ |
| ۵ | خرما | ۳۸۰۰ گرام | ٤۳٤ - افغانۍ |
| ٦ | مميز | ۳۸۰۰ گرام | ۷٦۰- افغانۍ |

**يادښت:**

**۱-** پورتنيو توکو کره اندازه ټاکل شوې، د احتياط له مخې غوره ده، غنم او يا د هغو اوړه د يوې فطرانې اندازه (۲) کيلو په پام کې ونيول شي، چې د غنمو بيه (۷٤) افغانۍ او د اوړو بيه (۷۹)افغانۍ کيږي او همدا راز د پاتې نورو خوراکي توکو د يوې فطرانې اندازه (۴) کيلو په نظر کې ونيول شي، چې د وربشو بيه (۱۷۱)، د وربشو د اوړو (۱۸۱)، د خرما بيه(۴۵۷) او د مميزو بيه (۸۰۰) افغانۍ کيږي.

**۲-** په ولاياتو کې د دغو توکو په بدل کې، د نغدو پيسو ورکولو په صورت کې، بيه يې بايد د ځايي نرخ له مخې ورته وټاکل شي.

**د فطر دصدقې حکم:** د فطر صدقه ورکول، واجب دي.

**د فطر د صدقې حکمت:** د فطر د صدقې د ورکولو حکمت، د روژه لرونکي او د هغه د مال پاکوالی، د هغه د روژې د نيمگړتياوو جبيره کول او همدارنگه له اړمنو خلکو سره مرسته کول دي.

**د فطر د صدقې شرطونه:** د فطر صدقه، پر هغه مسلمان، چې آزاد او مال يې د زکات د نصاب په اندازه او له اساسي اړتياوو زيات وي، واجبه ده.

**د فطر د صدقې د وجوب وخت:** د فطر صدقه، د کوچـنـي اختر د ورځې له سحر داخليدو سره واجبيږي (غــوره وخت يې د اختر له لمانځه مخکې دی او د رمضان مياشتې په اوږدو کې، ورکول يې هم جواز لري).

**د فطر د صدقې ورکوونکي:** هر هغه کس چې د فطر د صدقې شرطونه ولري، هم د خپل ځان او هم د هغو کسانو لخوا د فطر صدقه ورکول پرې لازم دي، چې نفقه يې د ده په غاړه ده، لکه: نابالغه اولاد او د خپلې ښځې او غټو اولادونو د فطر صدقه ورکول جواز لري

**د فطر د صدقې توکي:** د فطر صدقه، له څلور ډوله خوراکي توکو( غنم، اوربشې، خرما او مميزو) څخه ورکول کيږي. خو له دغو شيانو د يوه شي په بدل کې، نغدې پيسې د فطرانې په توگه ورکول، غوره والی لري.

**د فطر د صدقې مستحقين:** د فطر صدقه، د زکات مستحقينو( فقير، مسکين، د زکات ټولوونکي، پوروړو، فقيرانو مجاهدينو او مسافرو) ته ورکول کيږي.